د لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی

اداره او ډیپلوماسی څانګه

# د اداري او ډیپلوماسی څانګې د ۱۴۰۲ کال د تطبیقي پلان څخه د نظارت د څلورمی ربعی راپور

۱۴۰۲ کال

# لرليک


سریزه.......... 3
د ځانګې تاریخچه:.......... 3
لیدلید او ماموریت:.......... 3
د تطبیقي پلان څخه د څارني  کمیټی دغړیو  نومونه.......... 4
پیل خبري.......... 4
د راپور مهم ټکي او غورچاڼ:.......... 5
څواکمن ټکي:.......... 5
کمزوري ټکي:.......... 5
فرصتونه:.......... 5
تهدیدونه:.......... 5
تر سره شوي عمده فعالیتونه:.......... 6
هغه فعالیتونه چې پلان شوي نه دي ولې تر سره شوي:.......... 6
هغه څه چې دامکاناتو د نشتون په سبب تر اوسه نه دي تر سره شوي:.......... 6
ستونزې او نیمګړتیاوې:.......... 6
وراندیزونه:.......... 7
پیشبني شوی فعالیتونه د راتلونکي ربعی  لپاره :.......... 7
د ستراتژیک پلان د تطبیقي پلان څخه د څارکمیټی نتیجه ګیري:.......... 7
د راپور تائیدي :.......... 8

## سریزه :

### د څانګې تاریخچه:

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په ۱۳۹۱ لمریزکال کې د بُست پوهنتون له تأسیس سره یو ځای رامنځته او په فعالیت یې پیل کړی دی؛ د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په خپل تشکیل کې څلور څانګې (قضاء او څارنوالي، اداره او ډیپلوماسي، خصوصي حقوق او نړیوالي اړیکي) لري، چې له هغې جملې څخه یې د اداره او ډیپلوماسی او قضاء او څارنوالی څانګې د اوس لپاره فعاله دي: یاده پوهنځی د لیسانس په کچه محصلین روزي چې پدې پوهنځی کې د لیسانس دوره څلور کاله ده، چې څلور سمسترونه په مشترک ډول او نور څلور سمسترونه پر څانګو باندی ویشل کیږي او په جلا ډول زده کړې کوي.

د اداری او دیپلوماسی څانګه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په چوکاټ کی د تأسیس له وخته تر اوسه د پوره شفافیت او لوړ کیفیت لرونکې ده او په ښه ډول یې تول علمي چاري مخته ځي، ځینو استادانو یې د پوهنځي او پوهنتون څخه د ښه کړنو او فعالیتونو له وجې ستاینلیکونه تر لاسه کړي، د محصلینو د عملي زده کړو لپاره ډیپلوماتیکي مذاکري او تمثیلی سازمانونه په لاره اچـول سوي دي او په خپله غیږه کي یې ډیر ممتاز محصلین روزلي دي.

د اداری او ډیپلوماسی څانګی تر دې مهاله (۲۱۹) تنه ښځینه او نارینه محصلین فارغ کړي دي.

د اداری او دیپلوماسی څانګه دپوهنځی په چوکاټ کي د اعتبار ورکوني پروسې دوهم پړاو په لوړو نمرو پاس کړې او اوسمهال دریم پړاو ته کاندیده ده،

د اداری او دیپلوماسی څانګه کي وخت پر وخت علمي، عملي او د ظرفیت لوړوني پروګرامونه (ډیپلوماټیک مذاکرې، تمثیلي سازمانونه او داسی نور عملی پروګرامونه په لاره اچولی او د ظرفیت لوړوني په برخه کی یې هم محصلین روزلی دي .

## لیرلید او ماموریت:

**لومړی: - لیرلید(Vision)**

اداری او ډیپلوماسی څانګه هیله او ارزو لری چی په اسلامی،ملی،او اکاډمیکو اصولو او ارزښتونو سره د ټولني په اداری او سیاسی ارګانو لپاره پیاوړی کادرونه تربیه او د ټولني دلا ارتقا لپاره یي ټولني ته وړاندي کړي تر څو پدی ( اداری او ډیپلوماسی ) برخو کی د پر مختګ او انکشاف لپاره رغنده برخه واخلی.

**دوهم:- ماموریت(Mission)**

د اداری او ډیپلوماسی څانګه هڅه کوی هغه ځوانان چي غواړی په اداری او سیاسی برخو کی لوړی زده کړی وکړی،په لوړ کیفیت،اسانه او معیاری زده کړو زمینه ورته مساعده کړی تر څو هغه ځوانان له نوموړو اسانتیاو څخه په ګټی اخیستنی خپل اهدافو ته ورسیږی تر څو د خپل هیواد او ولس لپاره د خدمت جوګه وګرځی.

د تطبيقي پلان څخه د څارني کميټی دغړيو نومونه:

| ګڼه | نوم او تخلص | دنده | په کميټه کې رول | کتني |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | محمود خان قاسمی | اداره او ديپلوماسي ځانګې امر | کميټی مسول | |
| ۲ | بشير احمد ساپی | قضا او څارنوالی ځانګې امر | د کميټی غړي | |
| ۳ | سلطان محمد سلطانی | د تضمين کيفيت کمېټی مسئول | د کميټی غړي | |

پيل خبري :

د اداري او ډيپلوماسی ځانګه خپل چارو د ښه اجرا په موخه پنځه کلن ستراتيژيک پلان ترتيب کړی دی نو د ستراتژيک پلان او اکشن پلان د لاښه تطبيق په موخه د ۱۴۰۲کال لپاره تطبيقي پلان ترتيب کړ چي وکولای شو د تطبيقي پلان له مخی ستراتژيک پلان په ښه شان تطبيق کړو نو د تطبيقی پلان څخه څارنی لپاره مو بل د څار پلان ترتيب کړ تر څو د تطبيقی پلان څخه وخت پر وخت څارنه وکړو او هغه موارد چي د(۱۴۰۲ ) کال د تطبيقي پلان کي ځاي پرځاي شوي دي په ښه شکل اجرا او په سم ډول يی څارنه وکړو.

تير کال په نيمه کی مو تطبيقی پلان ترتيب کړی وو چی د دوه ربعو يانی دريیمی او څلورمی ربعی څخه مو څار تر سره کړی وو او راپور مو پوهنځی رياست ته استول دی دا دی اوس د ۱۴۰۲کال ترتيب شوی چی د څلورمی ربعی څخه يی د تاکل شوی هيت له خوا څارنه او نظارت تر سره شو ،اوس دا دی د تطبيقی پلان څخه د څلورمی ربعی د څآر راپور په لاندی ډول وړاندی کوو.

**د راپور مهم ټکي او غورچاڼ:**

1. دظرفیتونو لوړول:
2. عملی کارونو لپاره د زمینه پراختیا
3. د کیفیت تضمین د خدماتو او زیربناوو رغول
4. د علمی څیړنو پراخول ( تحقیق )د ۱۴۰۲ هـ.ل کال کی څلور څیړنی ترسره کول
5. د تکنالوژي څخه استفاده
6. د محصلینو د جذب لپاره اوږد مهاله فعالیتونه
7. د پوهنځي په کتابتون کی د کتابونو زیاتوالی راوستل

**ځواکمن ټکي:**

- د کاري شعبي شتون.
- د کاري میز ، الماری او کمپیوټر شتون.

**کمزوري ټکي:**

- د بشري منابع کموالی.
- انترنت ته د کمیټې د غړو لاس رسی نه لرل.

**فرصتونه:**

- د شته کارمندانو کړني تشویقول.
- د کار مندانو کړني مکافات کول.

**تهدیدونه:**

- د کارمندانو د معاشاتو کموالی.
- د کارمندانو ژر ژر بدلیدل د کمیټې د فعالیتونو په وړاندي خنډ جوړیدل (وظیفې پرېښوول د کارمندانو لخوا)

**ترسره شوي عمده فعالیتونه:**

**۱ - د کیفیت تضمین اولوړاوی** په برخه کی اداري او ډیپلوماسی ځانګې خپلې نه ستړی کیدونکی هڅې ترسره کړی دی او ددی فعالیتونو له جملې څخه د ۱۴۰۲ هـ.ل کال د کلنې ځار په راپور، د دوره ئی بیا کتنې په راپور، د پوولس ګونو معیارونو په ترتیب او تنظیم باندی کار ترسره شوی دی.

**۲ - د ۱۴۰۲ هـ.ل کال په جریان کې د نصاب کمیټې** د وزارت څخه د راغلی مکتوب په تعقیب د اسلامی ثقافت واحد کریکولم تطبیق کړی دی، چې پخوا په د اداري او ډیپلوماسی ځانګې په جریان کی څلور کریډیټه اسلامی ثقافت تدریس کیدی او د نوی کریکولم د تطبیق وروسته د اداره او ډیپلوماسی ځانګه د اسلامی ثقافت واحد کریکولم په اته سمستره کی تدریس کیږی شوی دی.

**۳ - د اداري او ډیپلوماسی ځانګې استادانو او محصلینو د علمی څیړنی** د ۱۴۰۲ هـ.ل کال په جریان کی لاندی څیړنی پیل کړی دی او نشر سوی دی

| شماره | نوم | تخلص | دنده | د علمي څیړنی عنوان | لارښود استاد | د نشر ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نورالله | عزیزی | استاد | د ښځو رول په ټولنه کې | دوکتور علی احمد | 2023 |
| ۲ | وارث | بدر | محصل | د مهاجرت تاریخی سیر او تاثیرات یې پر افغانستان باندی | نورالله عزیزی | 2023 |

**۴ - د تکنالوژی څخه د استفادې په برخه کې :** د اداري او ډیپلوماسی ځانګې په اداره او ټولو تدریسی ټولګیو کی د تکنالوژي څخه مناسبه استفاده کیږی او ټولې ټولګې ئی د پلازما/پروجکتور څخه برخمنې دی.

**۵ - د عوایدو په برخه کې :** د اداری او ډیپلوماسی ځانګه د محصلینو سمستروراه فیسونه او د داخلی فیس.

**۶ - د کتابتون په برخه :** د پوهنځي په کتابتون کی د کتابونو د زیاتوالی په برخه کښی اجرائت ترسره سوی او څه اندازه کتابونه د پوهنځي کتابتون ته لیږل سوی دی.

**هغه فعالیتونه چې پلان شوي نه دي ولې ترسره شوي:**

- پوهنتون کښی د ظرفیت لوړونی اړوند څلور ورځنې ورکشاپ کې د اداري او ډیپلوماسی ځانګې د دوو تنو استادانو ګډون.

**هغه څه چې دامکاناتو د نشتون په سبب تر اوسه نه دي ترسره شوي:**

- د ظرفیت لوړني لپاره علمي سفرونه دایرول.
- ساحوی څیړنی د استادانو او محصلینو لخوا ترسره کول
- د اداري او ډیپلوماسی ځانګې استادانو او کارمندانو ته د انټرنیت اسانتیاوي برابرول.

**ستونزې او نیمګړتیاوې:**


- کارمندانو کموالی.
- د انټرنیټ د اسانیاوو نه شتون.

**وړاندیزونه:**

- د ظرفیت لوړني لپاره علمي سفرونه دایرول.
- د څېړنې د ترسره کولو لپاره د امکاناتو شتون.
- د اداري او ډیپلوماسۍ څانګې استادانو او کارمندانو ته د انټرنیت اسانتیاوې برابرول.

پیشبني شوی فعالیتونه د راتلونکي ربعې لپاره :

- پیشبني شوي فعالیتونه په تطبیقي پلان کې ځاي پرځاي شوی دي




## د ستراتژیک پلان د تطبیقي پلان څخه د څارکمیټې نتیجه ګیرې:

- د تطبیقي پلان څخه موږ د څارکمیټې غړي د ارزوني په پایله کې دې نتیجې ته ورسیدو چې ځینې مسایل په عمده شکل په دې ربعه کې ترسره وې او ځینې لږ ترسره سوي دي چې په لاندي ډول دي
- **د کیفیت تضمین د خدماتو پیاوړی کول او اکاډمیک اعتبار تر لاسه کول** : د پنځه کلن علمی اعتبار اخیستو لپاره د څانګې ټول مستنداتو باندی کار تر سره شوی دی چې ټول مستندات کاپې اخیستل شوی او پوهنځی ریاست ته استول شوی دی چې د پوهنځی له طریقه به د پوهنتون تضمین کیفیت کمیټې ته تسلیم شي

- **د محصلانو سیمینارونو پراخوالی** : محصلانو سیمینارونو پراختیا موندلی ده چی د هر مضمون استاد خپل مضمون اړوند محصلانو ته سیمنارونه ورکوی چی ټولو محصلانو سیمینارونه ترتیب کړی او د پوهنځی په کچه یی ارایه کړی دی ۰ نور هم باید په دی اړه محصلانو ته د څانگی له خوا نوی موضوعات وکړل شی تر څو په یادو موضوعاتو کی څیړنیز لیکنی وکړی

## د راپور تائیدي :

**د اداري او ډیپلوماسی څانگی د ۱۴۰۲کلنی تطبیقي پلان څخه د نظارت د څلورمی ربعی راپور د څانگی د شورا په ( ۱۲ ) نمبر غونډه په ( ۲۲ / ۱۲ / ۱۴۰۲ ) نښه تائید سو.**

**د څانگی د آمر نوم: محمودخان قاسمي لاسلیک او مُهر**

**د اداري او ډیپلوماسی څانگی د ۱۴۰۲کلنی تطبیقي پلان څخه د نظارت د څلورمی ربعی راپور د پوهنځی د علمی شورا په ( ۱۸ ) نمبر غونډه په ( ۲۴ / ۱۲ / ۱۴۰۲ ) نښه تائید سو.**

**د پوهنځي د علمی شورا د مسول نوم : نورالله عزیزی لاسلیک او مُهر**